afghanistan justice archive

DEC1.04.13.2023

نېټه 1444/6/17

## ورانديز

د لوی او مهربان خښتن تعالی په نامه

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي قدر مقام ته!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

**موضوع: په هېواد کې د زونونو پر سطح د ديني جامعاتو (تخصصاتو) رامنځ ته کول:**

ښاغلو!

د لوړو زده کړو وزارت غواړي چې د افغانستان اسلامي امارت د اهدافو د لاښه تحقق پر موخه او د لوړو زده کړو وزارت د پالیسي مطابق، د اسلام سپېڅلي دين په لار کې د هېواد د نسلونو د لاښې روزنې او پیاوړتیا او همدارنګه د قدرمنو علمای کرامو او فاضلانو ته د سهولت د رامنځ ته کولو او د تخصص د اکمال په پار په هېواد کې د زونونو پر سطح ديني جامعې رامنځ ته کړي، چې د ارتيا ور تشکیل او دعوی موقیعتونه د لوړو زده کړو وزارت له طرفه په لاندې توګه په نښه شوي:

1. کندز ولایت: (۷۹) بسته.
2. بلخ ولایت: (۷۹) بسته.
3. هرات ولایت: (۷۹) بسته.
4. پکتیا ولایت: (۷۹) بسته.
5. ننګرهار ولایت: (۷۹) بسته.

چې په ټوله کې یې د بستونو شمېر (۳۹۵) بسته کېږي.

هیله ده چې د یادو دیني جامعاتو (تخصصاتو) د ضرورت وړ تشکیل راته منظور او پر اړوندو شعباتو لازم احکام ورکړئ.

یادښت: د یادو جامعاتو طرحه په (۷) پاڼو کې له دې لیک سره مل ده.

## احکام

شمېره: ۳۴۸۲

صادرېږي نېټه: ۱۴۴۴/۹/۲۲

۱۴۰۲/۱/۲۴

وکیل سو!

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

وبعد: د پېشنهاد په متن کې ذکر شوي جامعات منظور دي، البته في الحال دې یوازې تخصص في الافتاء والقضاء شروع سي، همدارنګه تشکیل هم په ذکر شوي (افتاء او قضاء) په تناسب منظور دی.

د یادو تخصصاتو د منظورۍ په موخه موږ ته وړاندې کړئ!